مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

خوشحال آصفي
۲۰۱۹/۰۵/۱۳

# د سولې مخکې کورنی غوبل؛

## نړیواله اجماع شته، خو کورني خلک راضي کړئ

په داسي حال کي چي په ټول هېواد کي په وروستيو کي طالبانو خپلو خونړيو بريدونو ته زور ورکړی او د روژې په مبارکه مياشت په خاطر يي هم اوربند ونه کړ؛ په ورته مهال ورسره په قطر کي د زلمي خليلزاد او وسله والو طالبانو تر منځ شپږم پړاو خبرو ته دواړو لوري (امرکا او طالبان) هيله مند دي او دواړو لورو په کي د پرمختګ يادونه کړي ده. خليلزاد ويلي چي له طالبانو سره د سولې په شپږم پړاو خبرو کي يو څه پرمختګ شوی او دواړو خواوو د يو بل نظرونه په زغم اورېدلي دي. تر دې وړاندې د طالبانو ويندوی ذبيح الله مجاهد او د دې ډلې د قطر دفتر ويندوی سهيل شاهين هم له امريکايانو سره د طالبانو په خبرو کي د پرمختګ يادونه کړې وه.
که څه هم په قطر کي د دواړو لورو د خبرو غټ جزيات د دغو خبرو له پيله تر اوسه نه دي روښانه شوي خو په ټوله کي دغو خبرو ته د دواړو لورو هيله مندی د افغانانو تر منځ هم هيله مندي زياته کړې ده. داسي معلوميږي چي سوله راتلونکي ده او طالبان به هم له افغان حکومت سره خبرو ته حاضر شي.
په ورته مهال د افغان سولې په اړه د سيمي او نړۍ هيوادونو ته د زلمي خليلزاد تير ترسره شوي سفرونه هم دا په ډاګه کوي چي د افغان سولې بهرني اړخونه هم سلا شوي چي نور بايد دلته جګړه پايته ورسيږي. بهرني اړخونه هم اوس تر ډيره هڅه کوي چي د افغانستان په راتلونکي حکومت کي خپل نفوذ پيدا کړي په همدې خاطر د سولې له روانو خبرو ملاتړ کوي. په دې مانا چي د سولې لپاره نړيواله او سيمه ايزه اجماع هم تر ډيره رامنځته شوې ده.
خو په داسي حال کي چي د افغان سولې بهرني اړخونه سره د جنګ په پايته رسولو سلا شوي معلوميږي؛ په کور دننه د سولې کورنی اړخ پيچلي او جنجالي شوی دی. که څه هم افغان حکومت هڅه وکړه چي د سولې مشورتي جرګې له لارې د سولې په اړه يو واحد دريځ رامنځته کړي خو له حکومت سره د سياسيونو مخالفت يا په ټوله کي د حکومت او افغان سياسيونو تر منځ ټکر دغه شورا او په کور دننه د سولې اجماع تخريب کړې ده.
اوس چي د افغان سولې په اړه د سيمي هيوادونه تر ډيره سلا شوي ښکاري؛ په کور دننه غوبل جوړ شوی دی. د حکومت مخالف سياسيون خو هسې هم له حکومت سره وران دي، اما اوس پخپله د حکومت نيمه بدنه بيرته د حکومت د کړنو مخالفه شوې ده. نيمه حکومتي دستګاه د حکومت له رهبری سره مخالف ده. ډاکټر عبدالله چي د حکومت نيم شريکوان دی؛ هم د سولې په اړه د افغان حکومت له طرحې سره مخالف دی. همداسي په وزارتونو کي هم اختلافونه موجود دي.
د ولسمشرۍ نوماندان او ډيری سياسيون د سولې په اړه د حکومت د هڅو کلک مخالف دي. هر يو يي سوله له خپل نظره تعريفوي او هر يو ورته بيله بيله طرحه وړاندې کوي خو هيڅ يو يي هم له بل سره په يوې طرحې موافق نه دي. دا مهمه نه ده چي د دوی مخالفت له شخصي عقدې سرچينه اخلي او که واقعاً د سولې لپاره دوی له حکومت غوره طرحه لري. بلکي مهمه دا ده چي د سولې په اړه واحد دريځ نه لري.

### څه کول په کار دي؟

افغان حکومت او سياسيون اوس د دې پر ځای چي د يو او بل پښې ووهي، يو او بل پسې ستغې سپورې ووايي او يو پر بل نيوکې وکړي؛ بايد سره کيني لومړی خپلمنځي مشکل حل کړي بيا دې په ګډه له طالب سره مشکل حل کړي. اوس چي دوی په خپل منځ کي جوړ نه دي نو طالب به څنګه د سولې په اړه خبرو ته قانع کړي. اوس خو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

طالب ته هم بهانه په لاس ورغلي چې حکومت او د کابل سیاسیون په خپل منځ کې جوړ نه دي نو له ما سره به څه جوړ شي.

افغان حکومت باید لومړی د حکومت شریکوال ډاکټر عبدالله راوغواړي، له نوموړي سره خپل مشکل حل کړي، د حکومت د بدنې له منځه دې اختلافونه خلاص کړي او د سولې په اړه د حکومت له ادرسه یو واحد نظر او دریځ راپورته کړي. بیا چې حکومت یوه خوله شو نو له سیاسیون دې راوغواړي او له هغوی سره خپل مشکل حل کړي.

سیاسیون هم باید د خپلو شخصي او کمپاینې عقدو په خاطر د سولې ملي پروسه تخریب نه کړي، دوی هم باید ټولې پنځه واړه ګوتې په خولې ونه منډي او له حکومت سره د خپل مخالفت په حل کې له انعطاف کار واخلي. که داسې ونه شي، د سولې لپاره په کور دننه ملي اجماع رامنځته نه شي، سوله خو به وشي اما داسې سوله به یواځې د نورو قدرتونو ګټې خوندي کړي، یواځې بهرنی اړخ به سولې ګټه واخلي خو افغانستان ته به یې ګټه ونه رسیږي. له طالب سره له سولې وروسته به د سیاسیونو تر منځ اختلافونه اوج ته ورسیږي. بیا به هم افغانان د همدې سیاسیون د اختلاف ښکار شي او نور هیوادونه به مو بیا له دغې مخالفته ګټه پورته او یوه بله ډله به راپورته کړي چې جګړه جاري وساتي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ